# او هغوی ته يې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د اودس په څېر اودس وکړ

د يحيی بن عماره المزني څخه روايت دی وايي چې: عمرو بن أبی حسن مې وليده چې له عبد الله بن زيد څخه يې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د اودس په اړه پوښتنه وکړه، نو هغه د اوبو يو کنډول راوغوښت او هغوی ته يې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د اودس په څېر اودس وکړ، نو د لوښي څخه يې په لاسونو اوبو را واړولې، نو درې ځلې يې خپل لاسونه ووينځل، بيا يې لاس په کنډول کې ښکته کړ، نو درې ځلې يې خوله ووينځله، او درې ځلې يې پوزې ته اوبه واچولې او بيا يې سونړ کړه، بيا يې پکې لاس ښکته کړ نو خپل مخ يې درې ځلې ووينځه، بيا يې دوه ځلې لاسونه تر څنګلو پورې ووينځل، بيا يې لاس ورکوز کړ او خپل سر يې مسح کړ، مخته يې داړه لاسونه راکش کړل او بيا يې شاته بوتلل، بيا يې دواړه پښې تر ښنګرو ووينځلې.
[(صحيح] [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی]

عبد الله بن زيد رضي الله عنه په فزيکي ډول د رسول الله صلی الله عليه وسلم د اودس طريقه بيان کړه. نو د اوبو يو وړوکی لوښی يې راوغوښت، د لاسو په وينځلو يې پيل وکړ، بيا يې لوښی راکوږ کړ او اوبه يې ترې راتوی کړې او لاسونه يې د لوښی نه د باندې درې ځلې ووينځل. بيا يې په لوښي کې لاس ښکته کړ، نو درې لپې يې ترې راډکې کړې او د هرې لپې سره به يې خوله او پوزه وينځله او بېرته به يې سونړ کوله، بيا يې د لوښي څخه لپه راډکه کړه او خپل مخ يې پرې درې ځلې ووينځه. بيا يې ترې لپه راډکه کړه او دواړه لاسونه يې تر څنګلو پورې دوه دوه ځلې ووينځل. بيا يې لوښي ته لاس کوز کړ (لوند يې کړ) او په دواړو لاسونو سره يې سر مسح کړ، داسې چې د سر له پيل څخه يې مسح پيل کړه تر دې چې شاته ورسيده يعنې د ورمېږ تر پورته برخې پورې، بيا يې بېرته راواپس کړل تر دې چې هغه ځای ته راورسېده چې مسح يې ترې پيل کړې وه. بيا يې دواړه پښې له ښنګرو سره ووينځلې.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3444

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee